# د نوي زیږیدلي ماشوم د اوریدلو سکرینینګ
# حقیقت پاڼه

**Newborn Hearing Screening Fact Sheet — Pashto**

## د نوي زیږیدلي ماشوم د اوریدلو سکرینینګ څه ته وايي؟

د نوي زیږیدلي ماشوم د اوریدلو سکرینینګ یوه معاینه ده چې ماشومان د اوریدلو د عادي حد څخه بهر کچې لپاره معاینه کوي. دا د نوي زیږیدلي ماشوم له دریو سکرینونو څخه یوه معاینه ده چې باید د زیږون وروسته، د blood spot (په نوي زیږیدلي ماشوم کې د 9 ژوند ګواښوونکو ناروغیو معلومولو لپاره د وینې معاینه) او نبض اکسیمیټري سکرینینګ سره یوځای سمدستي ترسره شي.

blood spot سکرینینګ

د نبض اکسیمیټري سکرینینګ

د اوریدلو سکرینینګ



## د اوریدلو سکرینینګ ولې مهم دی؟

د اوریدلو توپیرونه ژر تر ژره پیژندل ډیر مهم دي ځکه چې د زیږون پرمهال وینا او ژبه وده کول پیلوي. هغه ماشوم چې د اوریدلو د عادي حد څخه بهر کچه ولري ښايي د ژر مرستې پرته د خبرو او وینا ستونزه ولري. که چیرې یو ماشوم د اوریدلو د عادي حد څخه بهر کچه ولري، نو والدین یا چمتو کونکي ورته معمولاً پام نه کوي ځکه چې دا ډول ډیری ماشومان لوړ غږونو ته ناڅاپه عکس العمل ښيي او حتی داسې ښکاري چې اوري یې. سکرینینګ او وروسته تعقیبي معاینه یوازینۍ لار ده چې د اوریدلو د عادي حد څخه بهر کچه ژر وموندل شي. ستاسو د ماشوم په ابتدايي عمر کې پدې پوهیدل چې ستاسو ماشوم د اوریدلو د عادي حد څخه بهر کچه لري به تاسو او ستاسو ماشوم سره د خبرو اترو غوره لارې موندلو کې مرسته وکړي.

## زما د ماشوم د اوریدلو کچه به څنګه او کله معاینه شي؟

د لویو ماشومانو او لویانو لپاره د اوریدلو معاینو برعکس، د نوي زیږیدلي ماشوم د اوریدلو سکرینینګ ستاسو د ماشوم لخوا فعال ګډون ته اړتیا نلري. پرځای یې، د سکرینینګ یوه کوچنۍ وسیله به نرم غږونه غږوي پداسې حال کې چې دا د دې اندازه کوي چې ستاسو د ماشوم داخلي غوږ یا د اوریدلو اعصاب څنګه غبرګون ښيي. د نوي زیږیدلي ماشوم د اوریدلو سکرینینګ لپاره اوس مهال دوه میتودونه کارول کیږي چې د اوټوکوسټیک اخراجونه (OAE) او د اوریدونکي دماغ سټیم اتوماتیک غبرګون (AABR) دي. د نور تفصیل لپاره شاته مخ وګورئ.

سکرینینګ باید ژر تر ژره ترسره شي او ستاسو د ماشوم یو میاشتني کیدو څخه دمخه په تر ټولو غوره توګه بشپړیږي. که ماشوم مو په روغتون کې زیږیدلی وي، نو ابتدايي سکرینینګ باید ستاسو او ستاسو ماشوم کور ته د تلو دمخه ترسره شي. د اوریدلو سکرینینګ هغه وخت په ډیر ښه توګه ترسره کیږي کله چې ستاسو ماشوم خاموشه، ښه تغذیه شوی او آرام وي.

## پایلې څه معنی لري؟

که ماشوم مو د PASS پایله ترلاسه کړي، سکرینینګ ښيي چې ستاسو د ماشوم اوریدل په هغه وخت کې نورمال دي. دا چې د اوریدلو له منځه تلل د یو کس د ژوند په هر وخت کې واقع کیدی شي، خو بیا هم، دا مهمه ده چې د اوریدلو د لاسه ورکولو یا د وینا نه اوریدلو مرحلو اړوند هر ډول اندیښنو په اړه د خپل ماشوم چمتو کونکي سره بحث وکړئ.

که ستاسو ماشوم یو REFER/Pass یې نکړ پایله ترلاسه کړي، نو سکرینینګ ښيي چې نورو معاینو ته اړتیا ده ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې ستاسو ماشوم ټول هغه غږونه اوري چې د وینا او ژبې ودې لپاره مهم دي. ستاسو چمتو کوونکی به تاسو سره مرسته وکړي چې د تعقیبولو لپاره ژر تر ژره د ملاقات وخت تنظیم کړئ.

## OAE او AABR څنګه کار کوي؟

د OAE سره، په هر غوږ کې ځای پر ځای شوی نرم ربړي نوکه نرم غږونه وړاندې کوي او هغه منعکس شوی غږ اندازه کوي کوم چې هغه وخت رامنځته کیږي کله چې غوږ په نورمال ډول کار کوي. د AABR سره، اییرفونونه د معاینې غږونه وړاندې کوي. د ماشوم په سر او غاړه کې ځای پر ځای شوي سینسرونه د دې اندازه کوي چې د ماشوم د اوریدلو اعصاب دې غږونو ته څه ډول ځواب ورکوي. د OAE او AABR دواړو لپاره، کمپیوټر د دې اندازه کوي چې پایله یې PASS یا REFER/Pass یې نکړ ده.

## آیا تاسو خبر یاست؟

**هر کال،**

**په مینیسوټا کې**

**په 300 ماشومانو**

**کې تقریباً 1 یې**

**د اوریدلو عادي حد څخه بهر کچې سره زیږیدلی ویکوم چې د نوي زیږیدلي ماشوم د اوریدلو سکرینینګ له لارې موندل کیدی شي.**



## د اوریدلو د ژر کشف او مداخلې پروګرام

د اوریدلو د ژر کشف او مداخلې (EHDI) پروګرام د نوي زیږیدلو ماشومانو او هغو ماشومانو په پیژندلو کې مرسته کوي چې د اوریدلو د عادي حد څخه بهر کچې لري یا یې خطر سره مخ دي او کورنیو ته لارښوونه کوي چې د مناسبې مداخلې خدمتونه ترلاسه کړي.

د EHDI پروګرام اهداف د ټولو ماشومانو لپاره دي چې:

- **د 1 میاشتني عمر څخه دمخه** د اوریدلو سکرینینګ ترسره کړي
- **د 3 میاشتو عمر څخه دمخه د تشخیصي ارزونه** ترسره کړي
- **د 6 میاشتو عمر څخه دمخه د ژر مداخلې خدمتونه** پیل کړي




د مینیسوټا د EHDI پروګرام ویب پاڼه والدینو، چمتو کونکو او نورو مسلکیانو لپاره سرچینې چمتو کوي. والدین کولی شي د EHDI پروسې په اړه معلومات ترلاسه کړي، د ماشومانو د اوریدلو کچې ارزونې، د ژر مداخلې سرچینو له لارې د دوی د لارښوونې لپاره مواد ومومي، او په خپله سیمه کې د اوریدلو متخصصین او د زده کړې سرچینې ومومي. دا سایټ د والدینو سره په سیمه کې موجود د کورنۍ او ټولنې ملاتړ سیستمونو سره وصلیدو کې مرستې لپاره معلومات هم وړاندې کوي.

## د سکرینینګ په اړه لا نورې پوښتنې؟

د نوي زیږیدلي ماشوم د سکرینینګ پروګرام ته په 7772-664 (800)* زنګ ووهئ یا په انلاین ډول زمونږ څخه لیدنه وکړئ په:
www.health.state.mn.us/newbornscreening یا www.health.mn.gov/improveEhdi

*شفاهي ژباړونکی شتون لري

د مینیسوټا د نوي زیږیدلي ماشوم د سکرینینګ پروګرام | www.health.state.mn.us/newbornscreening
P.O. بکس 64899، سینټ پال، MN 55164
په بله بڼه کې د دې معلوماتو ترلاسه کولو لپاره:
د health.newbornscreening@state.mn.us سره اړیکه ونیسئ
یا 7772-664 (800) ته زنګ ووهئ ***شفاهي ژباړونکی شتون لري**

DEPARTMENT OF HEALTH
Rev: 2/2025
ID# 53323-PA